هاري

واشنګټن 5 سپتمبر 2008م

# امریکا له افغانستان څخه په لوی لاس ویتنام جوړوي

ښاغلی بارتل بریز بول د نیویارک ټایمز په ورځپانه کي د اګست د میاشتي پر ۱٤ لیکي:

که څه هم، سناتور اوباما او سناتور مکین ښه ډېر اختلافات سره لري، خو پر یوې مسلې توافق هم سره لري. هغه افغانستان ته د اضافه عسکرو استول دي. ښاغلی مکین غواړي چي پدې شرط افغانستان ته نور اضافه عسکر واستوي چي په عراق کي حالات ښه سي. مګر ښاغلی اوباما وايي پکار وه چي د عراق پر ځای مو افغانستان ته زيات عسکر لېږلي وای. ځکه افغانستان د تروریزم پر خلاف د جنګ میدان دی، او موږ مجبوره یو چي د افغانستان په بیاودانولو کي د مارشال پلان غوندي یو تجویز ولرو.

د امریکادفاع وزیر، رابرت ګېټس، هم د دوی سره موافق نظر لري. هغه غواړي چي د افغانستان د ملي پوځ د روزلو او تقویه کولو په غرض ۲۰ بیلونه ډالره تخصیص سي. د عامه افکارو سروې ښيي چي ٦۰ فیصده امریکایان افغانستان ته د اضافه عسکرو د استولو سره موافق دي. د ټایم مجلي د افغانستان جنګ د "ښه جنګ" په نامه یاد کړی دی .

مګر ایا ممکنه ده چي د بي اتفاقه، غریب، او وران افغانستان څخه یو اباد او ودان ملک جوړ سي؟ د افغانستان په بېدیاو او غرونو کي د امریکا منافع څه دي؟ حتی که دا منافع ډېري هم وي، ایاهغوی دوه مهمي دي چي باید په هر قیمت چي کېږي تر لاسه سي؟ دغو پوښتنو ته جواب ورکول افغانستان ته دنورو اضافه عسکرو د استولو مفکوره تر جدي سوال لاندي کوي.

په متحده ایالاتو کي د سپتمبر د یولسمي د تروریستي حملو را وروسته، د طالبانو حکومت رانسکورول یو موجه، معقول، او عادلانه عمل وو. د طالبانو دحکومت کمبله فقط په څو اونیو کي د یو څو سوو امریکایي خاصو عسکرو په مټ ور ټوله سوه. البته، د شمال دایتلاف په مرسته .

مګر د هغه وخت را پدې خوا، همدا ماموریت نور هم پراخ سوی دی. نن ورځ، په افغانستان کي ۷۱۰۰۰ د ناټو عسکر پراته دي. خو بیاهم، وضع ورځ په ورځ خرابېږي. د کال ۲۰۰٤ په پرتله په کال ۲۰۰۷ کي د یاغیانو حملي لس برابره زیاتي سوي دي. دغه راز، ځانمرګي حملي، د سړک د غاړي بمونه، او نور بریدونه هم ډېر سوي دي. په کال ۲۰۰۱ کي، زموږ مهم انډیوال – د شمال ایتلاف- دونه زیاته خاوره په لاس کي وه چي زموږ د اوسني انډیوال – حامدکرزي- تر ولکي لاندي نده .

متحده ایالات باید هرومرو هغه خلک مجازات کړي چي پر امریکا باندي یې حمله کړې ده او هغه خلک هم مجازات کړي چي همدغو کسانو ته یې د سیب او پټېدو ځای برابر کړی دی. همدا سبب وو چي د افغانستان جنګ د عامه امریکایانو ملاتړ تر لاسه کړ. زموږ د جنګ اساسي اهداف- د طالبانو راپرځول او د القاعدي ړنګول- کاملا تر لاسه سوي دي. خو په افغانستان کي د امریکا د ماموریت اوږدېدل د امریکا د ځلورو نورو منافعو په باب بحثونه راپورته کوي. لمړی، د بین المللي تروریستانو لپاره د سیب ځایونه ختمول؛ دوهم، پدغه حساسه منطقه کي د امریکا د نفوذ او طاقت خورول؛ دریېم، د مسلمانانو د زړونو، فکرونو، او ملاتړ تر لاسه کول؛ او بالاخره، د مخدره موادو او قاچاق نوغی ایستل دي. دا هره مسله جدي غور غواړي.

لمړی، د تروریستانو لپاره په افغانستان او یا نورو هیوادونو کي د سیب دځای ختمول بیله شکه د امریکا ډېره مهمه ګټه او وظیفه ده. مګر ددغه هدف لاسته راوړل، نه د یوه ملک اشغال ته اړتیا لري او نه هم افغانستان ته د نورو اضافه عسکرو لېږلو ته. ځکه د تروریزم پر خلاف مجادله د ملکونو نیولو ته اړتیا نلري، بلکي استخباراتو او مخصوصو پوځي قابلیتونو ته ضرورت لري .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

که څه هم، طالبان کرار کرار غښتلي کېږي، خو يوازې به هله القاعده ته بيا د سېب ځای برابر کړي چي کابل ونيسي. مګر تر هغه وخت پوري چي موږ د کابل د حکومت سره مرسته کوو، د افغان پوځ روزوو، او خپل استخبارات هلته لرو، د طالبانو د کابل د نيولو خوب او خيال به هيڅکه ريښتيا نسي.

بلخوا، که چيري طالبان بياهم قدرت ته ورسيږي، او د القاعدې لپاره د سېب ځای برابر کړي، ښايي د امريکا دامنيت لپاره ډېر زيات خطر ايجاد نه کړي .

په افغانستان او عراق کي، د برتانيې پخوانی ډيپلومات، روري ستيوارټ، چي همدا اوس په کابل کي يوه غير دولتي موسسه لري، استدلال کوي او وايي: په افغانستان کي د ټروريستي ډلو تمرينات هغه ابتدايي ګوريلايي روزني وې چي د سپتمبر د يوولسمي له حملو سره يې هيڅ ډول ارتباط نه لاره. ښاغلی روري وايي:"تاسو د چاقو د استعمال د زده کولو لپاره افغانستان ته د ورتګ اړتيا نلرئ. افغانستان د پيلوټۍ د زده کولو لپاره مکتبونه نه درلودل ".

د سپتمبر د يوولسمي د حملو لپاره د القاعدې دقاتلانو روزنه په افغانستان کي نه بلکي د جب بوش_ دجمهور ريس بوش کشر ورور او د فلوريډا د هغه وخت ګورنر_ په فلوريډا کي وسوه. د سپتمبر د يوولسمي د حملو د مخنيوی لپاره بايد هامبورګ اشغال سوی وای، ځکه ددغه ټروريستي بريد لمړني پلانونه هلته وضع سوي وه .

نو بنا، په افغانستان کي د ټروريزم خلاف د مبارزې لپاره امريکايان ښايي ۲۰۰۰۰ عسکرو ته اړتيا ولري، نه زياتو ته. بايد دا ومنو چي افغانستان يو ليري، منزوي، او غريب ملک دی چي د القاعدې سره څه اړيکي هم نلري. القاعده همدا اوس په پاکستان کي ټنډه خوبونه کوي .

بياهم، امريکا په افغانستان کي ډېرو لږو عسکرو ته ضرورت لري. دونه عسکر چي استخبارات راغونډ کړي، او خاصو قواوو ته ددې فرصت برابر کړي چي ټروريستان تباه او محوه کړي .

دوهم، په سيمه کي د امريکا د نفوذ او قدرت د خورولو موضوع به وګورو. افغانستان پدې منطقه کي د پاکستان، ايران، مرکزي اسيا، او حتی چين سره پولي لري. دا مسله بېله شکه ارزښت لري، خو ددغه هدف د لاسته راوړلو لپاره يوازې يو هوايي ډګر ته ضرورت سته چي زموږ په اختيار کي وي، يو افغانی حکومت چي زموږ دوست وي، او يوه کوچينی خاصه قوه چي د ضرورت پر وخت عمليات وکړي .

بلخوا، دا هم روښانه نده چي ولي امريکا ددغه اهدافو د لاسته راوړلو لپاره افغانستان ته ضرورت لري، ځکه همدا اوس امريکا په اوزبکستان او منګوليا کي په ډېر لږ قيمت ستراتيژيکي اډې لري.

دريېم، د يوه عصري او مدرن اسلام او د مسلمانانو د زړونو د ګټلو لپاره دافغانستان نړيوال اهميت په هيڅ کي حسابيږي. بل داچي په اسلامي نړۍ کي افغانستان کوم خاص اهميت نلري. په افغانستان کي د بغداد په شان اسلامي مدنيت او ثقافت هم ندی تېر سوی. د عراق په خلاف، په افغانستان کي د شيعه ګانو کوم خاص امام هم نسته. لنډه دا چي د امريکا لپاره د طالبانو غوندي يوه وهابي اسلام ماتول کومه خاصه ګټه نلري.

څلرم، د مخدره موادو راايسارول هم ډېر کمزوری دليل دی. د امريکا د جمهوري رياست کانديدانو هم دا مسله د خپل انتخاباتي کمپين اصلي موضوع نده ګرځولې. بلخوا، د هيروينو لپاره زموږ تقاضا د افغاني بزګرانو ګناه نده .

اوس نو، د افغانستان لپاره څه ډول تعهد ته چمتو يو؟ په افغانستان کي د ناټو پخواني قومندان، جنرال ډان مکنيل، ويلي دي چي د ټروريزم ضد مفکورې په حساب د افغانستان لپاره بايد ٤۰۰۰۰۰ عسکر واستول سي .

د افغانستان ارامول ډېر ګران کار دی. روسان او انګريزان همدې واقعيت ته وروسته له ډېرو تاوانونو څخه ورسېدل. نن سبا، په افغانستان کي تر عراق زيات امريکايي عسکر مري. د کندهار د محبس کاميابه عمليات او په کنړ کي د امريکايي پوځي اډې ماتول هيڅکه په عراق کي ندی پېښ سوي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د افغانستان اشغال یو ستر تاکتیکي بریالیتوب وو، او یو سم ستراتیژیکي اقدام وو .مگر اوس داسي بربښني چي امریکا په لوی لاس د افغانستان جنگ د یوشتمي پیړۍ په ویتنام بدلوي. د جنرال مکنېل په قول په افغانستان کي کامله کامیابي لاسته راوړل، دا ایجابوي چي هلته د عراق په تناسب درې برابره عسکر واستول سي .
که چیري امریکایان په هغه څه باور لري چي سناتور اوباما يې غواړي، او هغه دا چي د افغانستان جنگ یو "ښه جنگ" دی او باید افغانستان ودان او اباد سي، نو بیا امریکایان مجبوره دي چي هم يې قیمت ومني او هم داو مني چي هلته بری یو لیري او ورک خوب او خیال دی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de